در وبنانیانو ملی نهضت

لیکونکی

استاد اسلانوف

مترجم

محمد اکبر معتمد

پښتو ټولنه

۱۳۵۳

د پښتو ټولنې دخپرو نو

(پرله پسې نمبر (۲۰۲)

درو بنا نیانو ملی

نهضت

لیکونکی : استاد اسلانوف

مترجم : څېړنوال معتمد

مهتمم : حبیب الله رفیع

پښتو ټولنه

۱۳۵۳

5552

بایزید در و بنان

سریزه

دروښانیانو نهضت په افغانی تاریخ کی د استعمار پر ضد دپښتنو دپر لهپسی مبارزو یوروښانه فصل دی . ددی نهضت د څرنگوالی په باب بیلابیل نظریی وړاندی شوی دی .

یوه نظر یه داده چه دروښانیانو نونهضت یو نگه تصوفی مکتب دی، باید هیڅ ډول سیاسی رنگ ورنه کړ شی. د غه ډول نظر یه چه تاریخی بېښی پهمطلق او مجرد ډول مطالعه کوی، د تاریخ دفلسفی لهنظره دسناو ورنه شکاری ځکه چه یو ډله بیز قیام هرو مرو دخپل وخت له اجتماعی، اقتصادی او سیاسی شرایطو سره اړه لری. هره تاریخی پېښه دتا کلو عواملو په اثرمنیځ ته را ځی په مشخصو شرایطو کې، وده اوانکشاف کوی اویاله مینځه ځی. له دی امله دروښانی نهضت دعلمی تحلیل دپاره باید دهغه وخت د تولنی عینی او ذهنی شرایط په ژوره توگهوڅیړل شی .

دو همه نظریه داده چه روښانی نهضت په هند کې دلودیانو دپا چاهی لهسقوط وروسته، دسلی خپلواکی او تاریخی بړم دساتنی دپاره دافغانانو دمبارزو کړی ده څرنگه چه روښان دخپل قوم او

قبیلی مشر او وا کمن نه وه،نوده دخپل ملی ارمان دتر سره کولو
دپاره دتصوف خخه دیوی کاری وسلی په حیث کار وا خیست .
دروښان په ایډیالوجی کی تیوری او عمل دوا ړه سره یو ځای
شوی دی او له همدې امله دنوروتصوفی او عرفانی سکتبو
سره چه غالباً پاسیف دی ،څرګند توپیر لری .

دریمه نظریه دپروفیسر اسلا نوف له خواوړاندی شوی ده .
دده په نظر روښانی نهضت بزګری نهضت دی او دطبقاتی مبارزی
ارخ یی څرګند او قوی دی. په دی اثر کې په ښاغلی اوستونکی
له هغو دلایلو اوشواهدو سره اشنا کیږی چه استاذ اسلا نوف دخپلی
فرضیی داثبات دپاره وړاندی کړي دی .

په پای کی لازمه ګڼم ښاغلی معتمددخپرونو دخا نګی لوی
مدیر ته چه د با یزید روښان دوفات دخلورسو مې کالیزی په
مناسبت یی دغه ارزښتناك اثر ژباړلی دی ،کورودانی وړایم او
دد غسې ګټورو آثارو دوړاندی کولو په لاره کې ده ته
بری او توفیق و غواړم .

محمد صدیق روهی

دپښتو ټولنی رئیس

دروښانیانو ملی نهضت

دروښنا نیانوملی نهضت اود بایزید روښان شخصیت دسیمی دلیکوالو نه پرته دنړی دپوهانو توجه هم ځانته اړولې ده. په دې لړ کښې دشوروی اتحادختیځ پیژند ونکی استاد م.گ اسلانوف روښانی نهضت داسی څیړلی دی چه دده دنظر ژوروالی اودقت پکښې لـــه ورایه ځلیږی. بناغلې اسلانوف دافغان پیژندنی په لړ کښې دډیرو معاصرو شورو ی افغان پیژند ونکو منلی استاد دی چه دپښتو ژبی او ادبیاتو دځیړنو په لړ کښې یی دستاینـــی وړخدمتونه کړی دی .

نوموړی په خپله دی څیړنه کښې هڅه کړی ده چـــه د

بایزید روښان اود روښانیانونهضت دفیو ډالیزم پهضد یو دهقانی حرکت ثابت کړی. دې په خپله هغه کښې پهډیرو قوی دلایلو بر یالی شو ی هم دی .

کله چه درو ښانی حرکت تاریخی سیر درو ښانی مبارزو دتحلیل او تجزیی په صو رت کوی نوخپل نظر په پـــوره کامیابی ثابتوی او کله چـــه دبایزید روښان په خوادریږی اود هغه پر مخالفانو تنقیـــدی گوزارونه کوی په هغه وخـــت کښې هم د نخښې منځرساولی او مخالف اعتراضو نه ښـــه ردوی. خوکله چه دمخا لفا نوځینی اعتراضونه خپل هدف ته نژدی بولی بیانو په څیړنـــه کښې څه کمزور تیا غو نـــدې پیدا کوی. په هغـــر صورت دکلتوری شرایطو دتو پیر ا ود ماخذونو دمحدود والی پـــه صورت کی دغومره وړی کمزوری دخیړنې اصلی او مرکزی قوت له منځه نه شی وړلی او یـــو نقادته حق ور کوی چه پـــه څیړونکی باندی آفرین اوشاباس ووایی .

دموضوع دانتخاب او لـــهروسی ژبې نه د هغې په ساده او روانـــه ټـــر جمه با یـــدمترجم ښاغلی محمد اکبـــر معتمد ته هم کور ودانیووایوچه دخپلو ګټورو ترجمو پـــه لړکښې یې‌دا اثر دبایز یـــدروښان دخلور سومی کالیزې دنمانځنې په مناسبت وړاندی‌کړ. هیله‌ده‌چه‌ګران‌لو ستونکی دپښتو ټو لنی لـــه‌دی وړی ،مګردرنې تحفې نه درو ښان پیژندنې په‌لړ کښې زیاتـــه‌استفاده وکړی. تاسې یـــې پخپله ولولیء چه دروښانیانودنهضت په باره کې دباندنیو پوهانو دخیړنو یوه ښه بیلګه‌او غوره نمونه ده اوکه‌نـــه ؟

په‌درناوی ،کابل ،پښتو ټو لنه‌د۱۹۷٤ ددسمبر څلورمه .

دپښتو ټـــو لنی مـــر ستیا لـخیړنوال عبدالله خـــد متګا ر

دمترجم سریزه :

یوخوخبرې

بایزیدروښان(پیر روښان،میا روښان، بایزید انصا ری) پښتنو په سیاسی او اد بـی تاریخ کښې داسی مقام لری چه نه یوازی دپښتنو په اجتماعی ټولنو کښې یی مثال نـه شو موندلی بلکه د(١٦ـ١٧) پیړی په موده کښې دهندو ستان په نیمه قاره، افغا نستان، منځنی اسیا او په منځنې ختیځ کښې یی هم په فکری او اجتما عـی لحاظ مثال لرپیدا کیږی .

بایزید روښان دپښتنـــو دمشهوری سیمې وزیر ستان

دکاټیګرام دی ، دی دروښا نی نهضت موسس اولار ښوونکی دی، که څه‌هم دی ډیرتالیفات‌لری مګر مشهور یی دغه اته علمی او ایدیا لوژیکی اثاردی‌چه پکښی دده فکری ارزښت ځای شوی دی :

۱ـ خیر البیان .
۲ـ صراطالتوحید .
۳ـ مقصود المؤ منین.
٤ـ فخرالطا لبین .
٥ـ حالنامه .
٦ـ مکتو بات پیر روښان.
۷ـ پښتو رسم الخط .
۸ـ واجیدی دی شلوك .

ددغو ډورتنیو اثارو څخه‌دهریوه مطالعه په خپل ځای دروښانی نهضت دپاره خاص‌اهمیت لری ولی ناوړو تاریخی

شرایطو داسی فضا منځ تـــه راوړه چه په دی تیرو څلـور سوو کلونو کښی نه یوا زی داچه دغه نهضت تار یخـی مطالعه ونه شوه بلکـــه دی نهضت دلار ښوونکو زیا تره علمی آثار هم لـــه منځه وړ ل شوی دی.

دبایزید په تالیفاتو کښی ترټولو مشهور تالیف خیر ـ البیان دی اویوه قلمی نسخه ری چه هغه په غربی المـان کښی ده، داکتاب په څلو روژبو پښتو، دری ، عربـی او هندی باندی لیکل شوی دی او مستشرقینوایی داکتاب څکه په څلورو ژبو لیکل شوی دی چه بایزید روښان غوښتل نه یوازی پښتانه بلکه نور قومونه هم د خپل مترقی نهضت دنفوذ لاندی راولی او ټول په خپل طریقت کښی داخل کړی .

بایزید روښان پخپله یـــوغریب سړی ؤاولاد وړوکتوب نه دخواری، نیستی اومحرومیت سره اشناؤ ده خپل نظر یات په خپل همدغه کتاب خیرالبیان کښی څرگند کـــړی دی، دا

کتاب خپل مخصوص مذهبی‌اوتبلیغاتی رنګ لری او په مقفی او مسجع نثر سره لیکل شوی دی. دانوی مسجع او مقفی نثر چه‌ده منځ ته راویستلی ؤدده نه وزو سته په پښتو ادبیاتو کښی پوره‌تینګ او مروج شو او حتی څوکاله وړاندی هم ځینو لیکوالو دانثر تعقیباوه .

داچه بایزید روښان دځان‌دپاره مقفی‌او مسجع نثر غوره ګڼی او انتخاب کړی ؤدا دده‌ادبی ذوق او فطری سبك نه‌ؤ **بلکه‌ده دیوی‌علمی‌تجربی‌له‌کبله دانثر غوره‌کړی ؤاوهغه داچه** زیاتره بزګران او دهقانان‌چه‌ده‌به ورته خطاب او تبلیغ کاوه او ددوی په ګټه به یی‌خبری کولی هغه بی سواده وو، هغوی لوستل نه شوکولای، هغوی یوازی دخپل‌پیر اولاد ښوونکی خبری په ژبه‌یادولی اوشك نشته چه‌دمقفی نثر یادونه دساده او غیرمسجع نثر نه آسانه ده ، نو ددی دپاره چه دبایزید خبری‌چه‌د بزګرانو او هقانانو دپاره

ډیری ضروری او ګټوری وی‌په‌ژبه یادی او حفظ شی ده‌به ورته په اسان ترتیب کولی‌چه‌هغه دمقفی نثرتر تیب‌دی‌یعنی په مقفی نثر او منثور ادب کی‌دبایزید حکمت داؤ چه پـــه بزګرانو تکلیف کم‌شی او په‌آسانی سره دده تعالیـــم او لار ښوونی ددوی په ذهن‌کښی کینی .

دا احتمال هم شته چـــه‌بایز ید به مقفی نثر څکـــه انتخاب کړی ؤچه ده دا سی‌بیش بینی کړی وه که‌چیری دده کتاب ددښمنانو له خـوا‌ه‌منځه یو وړل شی نود خلکو په‌ذهن کښی خوبه باقی پاتی‌وی‌او دایو اوږد فکر ؤچـه‌ده کړی ؤ.

دبایزید روښان نهضت یودهقانی او اولسی نهضت ؤ او غوښتل یی چه دعادلانه توزیع‌(خوله ویش) اصول په‌خلکو باندی تطبیق کاندی، ده او دده ملګرو غوښتل چه خپل اثار دعصر داجتماعی غو ښتنواوتقاضاؤ سره برابر کړی او

دټولنی سوالو نو ته ځوابو نه‌ووایی اوهم دوی غوښتل چه په‌ادبیاتو کښی داسی ملـــی نظر یاتو اوتمایلاتوته‌انکشاف اووده ور کړی چه‌د فیو ډالی‌دعقیـــدی اود جـــاګـــیر داری دایدیا لوجی سره مقابلـــه اومقاومت وکړی اوشك نشته‌چه دادوی لوی خدمت دی او په‌دی‌لار کښی دوی لوی خدمت کړی دی .

دروښا نیانو داثارو سیالی‌تیزوا لی اود دوی داثـــا رو تبلیغاتی خصو صیاتو پخپـــل‌وخت کښی لوړ ادبی قا بلیت اومثبت وضعیت وګاڼه چه دی‌کار مخالفه ډله وار خطا او په ویره کښی واچوله ،بایزیـــدروښان چه‌د صوفیزم دمشکلی اوپیچلی ایدیا لوجی په ترویج‌او خپرونه کښی خپل لـــو ړ استعداد په کار اچولی ژدیوسیاسی نهضت او متر قـــی حرکت لار ښوونه هم کوله،په‌دغه حرکت او نهضت کښی‌له دهنه غیر نورو ډیرو شاعرانواوادیبانو ګډون کړی ؤ،ددغو

شاعرانو نومونه دپښتو ادب په تاریخ کښې دتل دپاره لوړ مقام لری اود پوره شهـــرت څښتنان دی .

روښنا نې ملی نهضت لـــوی لوی ادیبان او شاعران لرلکه دولت لوانی، واصل ، مـــــلاارزانی ، میر زا خان انصاری کریمداد، علی محمد مخلص اونور چه دوی هریو داشعارو مستقل مستقل دیوانونه لری اوپه (١٦ــ ١٧) پیړیو کښې یی پښتو ادب ته زیاته تر قیمورکړه .

دبایزید ټینګ دوســت او کلك مــلګری ملا ارزانــیؤ دابالبداهه شاعر دلوی استعدادخښتن ؤ او سم دلاسه یی شعر ویلی شو او په دی صفت کښې شهرت لری .

په اوه لسمی پیړی کښې دروښنا نیانو نظریات او عقاید په روښانو او مفصلو اشعارو کښې دبایزیدلمسی میرزاخان انصاری څرګند کړی او خلکوته یی وړاندی کړی وو، په دی لارکښې ده ډیر خدمت کړی دی اوددغه نهضت په معرفی

کښی لوی لاس لری او دغـه کارته دولت لوانی هم په خپل دیوان کښی اشاره کړی ده.

میر زاخان انصاری دپښتوژبی لومړی شاعر دی چه په خپلو اشعارو کښی یی دعروض دسیستم نه کار اخیستی او هغه یی منلی دی، ده په پښتوکښی دلومړی ځل دپاره شعر پوهنه او عروض رواج کړ ل په دی لار کښی ډیرو شاعرانو دده پیروی او متابعت وکړ، په دغه وخت کښی قصیده ،رباعی قطعه، مثنوی اوغزل دپښتـو اشعارو مشهور ی نو عـی وگر ځیدی اوپو ره پر مختیا اووده یی پکښی وکړه.

هوا! په لو مړی سر کښی کله چه په پښتـو ادب کښی نوی شعری بحرونه او اوزان چه د عروض محصول گنـل کیږی وردا خلیدل نود زاړه شعرد طرفدارانو له خوا ور سره سخت مقاومت وشو اودنوی شعرمنلو اود زاړه عنعنوی شعرد له منځه وړلو ته حاضرنه شول ،په دغه وخت کښی

یوی ډلی په‌بلی ډلې انتقادونه‌اواعتراضونه وکړل اوتبلیغات یې‌سره شروع کړل .

دولت لوانې چه دنوی‌شعرطرفدار ؤپه کهنه پر ستا نو او محافظه کارانو شا عرانویې‌سخت انتقادونه او گوزارونه وکړل او دوی یې دمهملانواوناپو هانو شاعرانو ځنی‌حساب کړل اود دوی شعرونه یـــې‌دنوو فور مونو اود عروض دعلم اود نظم دلیکلو دتیوریوڅخه فاقدتوصیف کړل .

میرزا خان انصاری او ددەشاگر دانو غوښتل چه‌د پښتو ادبیاتو په ټولو شعرې انواعوکښې عروض داخل کړی اود شعرې تیور یونه پکښې کارواخلی مگر دعروض تال‌اوبحر دولسیې اشعارو دتال او بحرسره کوم نژدیوالی نه لاره‌نو ځکه دوی دستونځو اومشکلاتوسره مخامخ شول اولکه چـه دوی اراده کړې وه هغو مره‌په‌خپل مقصد بریالی نه شول ځکه چه پښتو ادب په جـزی‌توگه عروض قبول کړی دی‌او

زیاتره اشعار اوس هـــــم دفو لکلور دتاثیر لاندی دی او ټینګ اړیکی ورسره لری .

په هغه دوره کښې چـــه روښانی نهضت پکښی روان ؤ په پوره اندازه سره دتحریری ادبیاتو کار وسعت او پراختیا پیدا کړه اود ادبیاتو اجتماعی اهمیت زیات شو، ددښمنـــو ډلو په مخ کښی ادبیا تـــودوسلی حیثیت پیداکړ او هری متخاصمی ډلی دبلې ډلی پـــه مقابل کښی له ادبیاتو څخـه کار اخیست او دوسلی پـــه توګه یی استعما ل ول، دغـــو حقایقو او اوضاعو د پښتـــو ادبیاتو په انکشاف کی مرسته وکړه اوددغو ادبیاتو دانکشاف په لومړی مرحله کښی بی مهم رول ولوباوه. په هغه وخـت کښی دفیو ډالی ظلم په مقابل کښی دولس پروټسټ اوغـږ لکه یوه قوی چاودنه اور یدل کیده، دغه دملت غـــږ او پروټسټ دهغه وخت په پښتو ادبیاتو کښی منعکس کیده اودروښا نیانو دډلی لیکوالو او

شاعرانو په خپلو اثارو کښې لومړی مقام ورکاوه اود ملت دغو ښښتنو ټینګه طر فداری اوحمایه یې کوله او خپل قلم یې یوازی دملت دګټو دپاره وقف کړی ؤاو همدا وجه ده چه خلك وایی ددوی په برکت په پښتو ادبیاتو کښې قوی دیمو کراتیکی او ملی روحیه پیدا شوی ده .

دپښتنو په یووالی اوتقویت کښې روښانې نهضت پوره مرسته کړی ده او دیوآزا دی خوښو ونکی ملت په حیث یی پښتانه معرفی کړی دی. دغه نهضت پښتنو ته دآزادی په جګړو او استثمار چیانو سره په مبارزو کښې ستر ه تجربه ورپه برخه کړی ده.

دروښا نی نهضت مؤ سس بایزید روښان اتلس کلن ؤچه خپل ملی او سیاسی فعا لیت یی شروع کړ، ددی نهضت ورو ستنی لارښو ونکی احداددی چه دده په مرګ سره روښانی ملی نهضت چه نژدی یوه پیړی په پښتنی

عبدالحمید شیرزاد

خاوره کښې دیو ملي حرکت په حیث روان ژوند د درباری قوتونو او ارتجاعي عنا صرو په واسطه غلی کړای شو.

څرنګه چه روښانی نهضت یو ملی اوجهانی متر قی حرکت ګڼل کیږی نوځکه په دی باره کښې ډیرو مستشر قینو اخیرنې اولیکنې کړی دی او ایزید روښان یی دنړی دیو لوی متفکر، متصوف نبه ادیب مورخ اودخپل وخت دنومیالی سیاسی شخصیت په حیث پیژندلی دی.

رو بنانی نهضت د پښتو په راتلونکو ملی نهضتونو باندی هم پوره تاثیر کړی دی، درو بنانی نهضت په اوږده تاریخ کښې چه د پښتنو لوبی تپی او قومونه پکښې د مبارزی په روحیه تربیه شوی وی اود خارجی استبداد سره یی په کلونو جګړی کړی دی د دغه نهضت د خپه کیدو او غلی کیدو څخه وروسته خوشحال خان، میرویس خان، ایمل خان د ریا خان اونورو ملی مبارزینو ته په هماغه روحیه ور پا تی

شوی دی اوله نیکه مرغه لوی‌احمدشاه بابا دغه نهضت ته دعمل لباس ور وا غوست اوپښتو نخوابې پښتو نخـــوا کړه .

په اوسنۍ وخـــت کښې‌دخدایی خدمت ګارانو تحریك اود نشنل عوامی پارټی‌مبارزی پـــه مستـقـــیم ډ و ل د رو ښانی نهضت ســره‌ارتباط لر ی‌چه هغه د پر دیو غاصبانو څخه‌دهیواد خلاصول دی .

لنډه دا چه رو ښانی نهضت‌دپردیو استثماری طا قتو نو په ضد لومړنۍ ملی او متر قی‌حرکت و. چه په شعوری ډول شروع شوی او د ادب په ژبه‌او د تصوف په لباس کښې‌یی دوام کړی دی .

دی کښې شك نشته چـه‌بابزید رو ښان هند او منځنی آسیا ته چه فیو دا لیزم پکی‌نسبتا پخوا پیـــدا شوی ، و متعدد سفرو نه کړی وو اوهلته‌به‌یی پـه‌خپلوستر ګـــو

لیدلی وی چه دغریبا نو ا وبزگرانـو پـه مقا بـل کښی فیو دالانو او جاگیر دا رانـوخومره ظلمو نه کول او ممکن همدی کار دده دتفکر پـه خرنگوالی تا ثیر کړی وی او د فیو دا لانو سره بـه دده دحساسیت سلسله له هما غه ځایه شروع شوی وی «۱» .

د رو ښا نیانو واقعی تاریخ لیکل گران کار دی ځکه هغه مواد چه دغه تاریخ پکښی په‌مفصل ډول لیکل شوی دی او د رو ښا نیانو په مقابل کښی‌د مغلو او ارتجاعی قو تو نو ظلمونه پکښی څر گند شو ی‌دی هغه اوس په لاس کښی نشته او دا خبره په ځای ده‌چه وایی دا خوند در ویزه په امر د رو ښانی نهضت پوری‌مربوط ډول مواد سو ځو ل شوی‌دی ، هو ! څه چه موجوددی هغه زیا تره مغلی در بار یانو لیکلی دی چه حقیقت یی‌پټ کړی‌اوتر خاورولاندی‌کړی دی «۲» .

«۱» ــ ریسنیر ، د فیو دالیزم انکشاف ، ۲۷۸ مخ .
«۲» ــ پورتنی‌ماخذ ۲۷٤ مخ

د بایزید روښان د آثارو دمطالعې نه معلو میږی چه دی ستر عالم ، دښې عقیدې څښتن او په شریعت یو مستقیم شخص دی مګر مخا لفا نو دا سې تو رو نه ور باندې لګولی دی چه دده له شا نه سره مناسب نه دی .

درو ښانې نهضت نه وروسته چه څه رڼا ور باندې وا چو ل شوه او غواړم چه د ا ستاد اسلا نوف په باره کښې چه دی مو جوده رسالې مولف دی څه لنډ معلو مات وړاندې کړم درو ښا نیانو په باره کښې ده یوازې همدا رساله نه ده لیکلی بلکه نور آثار هم لری اود ختیځ پیژندونکو په څو کانګر سو نو کښې یې در و ښانیا نو په متعلق وینا ګانې کړی دی .

په شوروی اتحاد کښې استاد اسلا نوف لومړی سړی دی چه درو ښانیانو نهضت یې د څیړنې لاندې نیولی دی او شورو یان یې ور سره اشناکړی دی ، وروسته بیا نورو

شورو یانو هم لکه ریسنیر ،رومودین ، انتو نووا ، گیرس او نورو دغه موضوع تعقیب کړی او مفصلی څیړنی یی پکښی کړی دی ، اوس دشوروی ختیځ پیژ ندو نکو په آثارو کښی د روښانی نهضت په متعلق ډیری لیکنی لید ل کیږی او دی موضوع سره تماس زیات شوی دی . څرنګه چه استاد اسلا نوف په افغان پیژ ندنه او د پښتو په تدریس کښی زیات کار کړی او دشوروی او افغان دوستی په تینګښت کښی یی اوږدی هڅی او ډیر کوښښو نه کړی دی نو دمسکو د علو موداکاډ یمی یوی مجلی ددې سوانح په همدی منا سبت په دی ډول لیکلی دی :

مر تیر وس گریګو ریویچ اسلانوف د شوروی افغان پیژ ندونکو له زاړه نسل څخه دی ، دی د ۱۸۹۷ ع کال د اکتوبر په څوارلسمه پیداشوی دی ، داستاذی په فعالیت او هڅو یی هغه وخت پیل وکړ چه د عملی کارونو پوره تجربه

ور سره وه ، د کابل په شوروی سفارت کښې تـــر جمـان ، ژور نالیست اودتاس نما یندهودی همدا رنگه په منځنی ختیځ کښې د افـــغا نستـــان او هند وستان د چارو دپـــاره دمطبو عاتی اتاشی ادبـــی همکار هم وو ، کوم وخت چه اسلانوف په کابـل کښې ونوده په خپلو ستر گو ولیدل چه په افغانستـــان کښې دپښتنو دژبې او کلتو ر د بیر ته را ژوندی کولو هیلـی اوتمایلات څومره قوی شوی او څومره توجه ور ته ده .

استاد اسلانوف د افغانستان نه بیر ته په داسی حال کښې وگر ځید چه پښتو یی علما او عملا زده کړی وه ، دپښتنو ژبی او فو لکلور په بر خه کی یی نادر او نایاب موا د ټول کړی وو او د هیواد او خلکو د ژوند په باره کښې یـــی شخصی مشا هدات د ځان سره ذخیره کړی وو . دغو کارو نو او خپل ذوق اسلا نوف دپښتو د استادی او معلمی خوا تـــه والمساوه او دغه مقدس کار او سپیځلی دندی ته یی له هر څه

نه ترجیح ور کړه .

په مسکو کنبی دی دی ته‌وګمارل شو چه دپښتو ژ بی کو رسونه جوړ کـــړی او دمسکو د ختیز پیژندنـــی د انستیتوت او د خارجی ژبـــودانستیتوت محصلینوته پښتو ور زده کړی . پـــه شوروی‌حکومت کښی اسلا نوف لومړی سړی دی چه دپښتو داستادی‌افتخار یی گټلی دی .

داستاد اسلانوف دشاګردانو په منځ کښی داکتران او د علو مو کاندیدان شا مل وو ،ټولو شا گر دانو ته دا معلومه وه چه ددوی د پښتو استاذځومره سخت گیر او څو مره پوښتنی کوی ، داستا ذی اوتدریس پـــه وخت کښی د اسلا نوف د ښه تنظیم اوقوی‌اداری استعداد څر گند شو ، ده په ۱۹٤٤ ، ۱۹٤۷ کلو نوکښی د مسکو دخارجی ژبو په انستیتوت کښی د پښتو ژبی‌کرسی اشغال کړه او اداره‌یی په خپله غاړه واخیسته .

استاذ اسلا نوف بر سیره په دی چه د پښتو ژبی او ادبیاتو دزده کړی په علمی میتودو نو کار کاوه درسی پـــلان یـی برابروه، د دیپلو م او اسپیرانتوری د چارو لار ښو دنه یی کوله، د فونتیك، گرا مـــــراو د قاموس د موادو په چارو کښی لگیا و، ده د پښتو ژبی د ادب او فولکلور په شا وخوا کښی یو لړ علمی تتبعات ا ومطا لعات کول ، د ده تتبعات او څیړنی په پراخو حقیقی ا وعلمی موادو بنا دی او داسی مستند او مستدل او گټور موادلری چه تر نن ورځی پور ی یی خپل اهمیت ساتلی دی .

استاذ اسلا نوف په ۱۹٤٥کال کښی د خپلی ډاکتر ی د تیزس نه دفاع وکړه ،په داسی حال کښی چه ده د خپلو لیکنو او یاد داشتو نو څـخه چـه د پښتو سندرو او متلو نو پـه برخه کښی وو استفا ده کوله د افغانی فولکلور یستا نو د چاپی موادو څخه یی هم گټه اخیسته ، د ه خپله اساسی توجه

دپښتنو دملی آثارو سبـــك،ژبې او صنف بندی ته اړولی وه ، په دغه دوره کښې دده دعلمی علاقې افق دده له هغو کارو نو نه معلو میږی چې دمسکو په علمی مرکزو نو کې چاپ دی لکه افغا نې قا موس‌لیکنه ، افغانې فـو لکلو ر او په شوروی اتحاد کښې یې‌زده‌کړه ، په افغانې ژبه کښې د ترکی ژبو دلغتو نو اقتباس ،دپښتو ژبې د مصدرو نـو د سیستم په‌برخه کې معلو مات،په پښتو ژبه کښې د مجهول فعل جوړښت ، اوسنی پښتوادب او انکشاف یـــی ، درو ښانیانو ملې نهضت او داسی‌نور .

د۱۹٤۳ کال نه را هیسی داستاذ اسلا نوف په ابتکار د لومړی ځل دپاره د محصلینو په درسی پرو ګـــرام کښې د پښتو ادب او فو لکلور درس‌زیات شو ، څه مو ده وروسته دده له خوا دری کتابو نه چه‌مواد یې د افغانې لیکوا لو له آثارو څخه اخستل شوی ووچاپ شول ، ددغو کتا بو نو

په سریزه کښې اسلا نوف د پښتو ادبیا تو اساسی تمایل او جریان په لنډ ډول بیان کړی دی او د افغانستان د اوسنیو لیکوالو د آثارو په مهموار خویی رڼا اچولی ده او خواص یې ښودلی دی .

د پښتنو د ژبې ، ادبیا تواو فو لکلور په بـاره کښې د استاذ اسلا نوف لیکنـــې **اوآثار درا تلو نکو** شوروی افغان پیژ ندونکو د**علمی پلټنو** دپاره په خپل ذات کښې ابتدا یـی **مواد** او لومړنی عناصر دی .

استاذ اسلانوف داستا ذی دنده خپلو شا گر دانو تـــه پریښوده او په خپله **دشوروی اتحاد** دعلو مو داکا ډیمی پـه کارونو مصروف شو، البتـــه دده دا کارچه د معلمې نه وروسته خپل ځان علمی چارو ته سپاری یو منطقی او په ځای کار دی . په ۱۹٤۸ کال کښې ده د مشر علمی همکار لقب وگا ټه ، ده چه دا کاډیمی په هره ځانگه کښې کار کړی دی نو د افغان

پیژندنی په ساحه کښی یې دیو وتلی او ستر عالم په‌حیث دخپل اعتبار نه تل‌ګټه اخستی‌ده .

دښاغلی اسلا نوف ژ وری‌پلټنې چه د پښتو ژبی ، ادب تاریخ او بشر پیژندنی پـــه‌برخه کښی یې کـړی دی د نوموړی علمی اعتبار یې ټینګ‌کړی دی .

ددی دپاره چـه دپښتنو داجتماعی ژوند واقعی جر یا ن په اصلی بڼه تفسیر شی نونوموړی عالم ته ضرور وه چه ډیر وخت مصرف کړی ، دده‌هغه کارو نه چه دافغا نانو او پښتو نستا نیا نو په باره کې یی لیکلی او په ۱۹۵۷ ـ۱۹۶۳ کلو نو کښی‌چاپ‌شوی‌دی ډیرپه زړه پوری دی ، په دغـــو کارونو کښی دپښتون ملت دژوند ، اخلا قو او عا دتو نو په برخه کښی ګټور معلو مـات‌وړاندی شوی دی .

اسلا نوف په هغه مقالـــه‌کښی چه د شوروی اتحاد په دایرةالمعارف کښی نشرشوی‌ده د پښتو ادبیاتو د لومـړی

اثرنه نیولی دمقالی تر لیکلـوپوری یی دپښتو ژبی پـــه خصو صیاتو یو لنډ خو په‌عین‌حال کښی اطمینان بښو نکی نظر اچولی‌دی.

په دی پوهیدل په‌کار دی چه‌کوم کارو نه استاذ اسلا نوف پخوا کړی دی هغـــه دده دوروستنی اساسی کار سره په هیڅ وجه نه شی مقایسه‌کیدای‌چه هغه‌دده‌پښتو روسی‌قاموس دی ، دا قا موس په ۱۹٦٦کال‌کښی چاپ شوی دی او دلغت لیکنو په ساحـه کښی د ده‌ددیر شو کلو نو دفعالیت او هڅو نتیجه ده ، دا قاموس په‌افغان پیژ ندنه کښی یوه لویه علمی برخه ده چه تر اوســـه‌یی نظیر نه دی پیدا شوی .

سره ددی چه استاذ اسلا نوف سپین زیری او د پاخه عمر څښتن دی مگر بیا هـــم‌زیار باسی چه دخپلو اجتماعی کارونو دپاره وخت پیدا کړی‌او خپلو علمی کارو نوته دوام ور کړی ، ده دشوروی اتحاد‌او افغانستان د دوستی تولنی

په چارو کښې په ښه فعال‌ډول‌سره کار کړی او ددغه مهم کار نه بی برخی نه دی .

دنومورې عالم کارو نه ا ومشغو لیتو نه فو ق‌العاده دی او کله کله دومره ژوروی چې حتی زمونږ ادراك هم نه ورسیږی دده معلومات ډیر اوپراخ دی، دی دد غو علوموپه برخوکښې‌لاس‌لری‌لکه‌دمرغانو پیژ ندنه ، دبو ټو پیژندنه ، دعلم‌الحیات پیژندنه‌او طب پیژ ندنه خو په هر صورت نومورې عالم تر ټو لولومړی دافغان پیژ ندونکی په صفت پاتی شوی دی .

د اسلا نوف دغه مقالې اوکنفرا نسو نه د افغا نستان ژوی ، د افغا نستان طبیعی‌جغرا فیه ، په افغا نستا ن کی دهندو ستان دځینو مر غا نوپیدایښت ، دمر غانو داولسی نومونو جمع کول ، د بو ټو په‌باره کی د اولسی خلکو عقیدی

او داسې نور مضامین ،مستقیما دده د علمی چارو سره ارتباط لری .

د نوموړی عالم دغه پور ته‌مقالی او کنفرانسونه هغه خواص لری کوم چه دده تول‌علمی کارونه یی لری ، دده په مقالو او کنفرانسونو کی‌ژوره تجزیه او د حقایقو د څرګندولو څرګ لګیږی ، دافغان پیژندنی د پرا ختیا په برخه کښی د استاذ اسلانوف‌خدمتو نه فوق العاده لوی او مهم دی ، دده د ډیرو کلونوګټور علمی اوداستاذی فعالیتونه د دولتی انعامونو او مکا فاتوسره مخامخ شوی دی ، ده د افتخار نښان اخیستی دی ا و د ډیرو مدالونو په ګټلو سر لوړی شویدی ، دده په مخکښی مونږ تل داوینو چه دی یې عوضه او په ډیر اخلاص‌سره علم ته خدمت کوی ، مونږ دزړه له کومی دغه زیارکښی او فعال پوه ته دعمر اوږدوالی ،روغتیا، نیک مرغی‌او د پښتو په آثارو کښی ورته

نوی بر یالیتو بو نه غواړو ،تر دی ځا یه پوری هغه څـه وو چه نوموړی مجلی داستاذاسلا نوف په باره کښې لیکلی وو ، مونږ په خپل وار ددغـې لوی استاذ په خصوص کښې دومره وایو چه ده پښتو ا ودوستی ته نه هیر یدونکـی خدمت کړی دی او د هر افغان او پښتون په زړه کښې به یې د تل دپاره درناوی موجود وی .

اوس غواړم چه پـــه دې رسالې یو نظر واچوم ، د ا رساله چه درو ښانیانو ملـې نهضت نومیږی رو ښانـــی نهضت یې تر یوی انـــدازی روښنا نه کړی دی او د اورنه معلو میږی چـه دا نهضت دبزګری او استثمار شوی طبقی وو چه دملا کانو او خار جـې دښمنانو په مقابل کښې روان و، دغی طبقی دویش (۱) عملی کیدل غوښتل چه دیوو لسمی عیسوی پیړی نه راپه دی پلود پښتنو په منځ کښې روا ج وهغو خلکو چه قو مې تفو ق لاره او ملاکان وو دغه دویش

(۱) دویش معنی داده چه یو کلی دبل کلی سره خپلی ځمکی ددری کلونو دپاره په ډله ایزه توګه بدلوی .

استاد سلانوف ددې
اثر لیکونکی

قانون سره یی موا فقه نه‌کوله‌او ځان یی ورنه مستثنی کاوه نو د پښتنو په منـــځ کښـــی‌جنگو نه پیښیدل او مغلـــی طاقت هم دغه اور ته لمن وهله‌او دملا کانو حمایه یی په‌غاړه اخیستی وه ، په دغه ترڅ اواخ و ډب کښی نور عقید وی مسایل هم پیدا شـــول او دمخالفتو نو ساحه پراخه شوه دمولف نظر یه داده چه په دغه‌نهضت کښی بی دپښتنو نـه نور بز گران هم شامل شوی‌وو .

زه خپله لیکنه په دی ځای‌بس کو م او لو ستو نکـی د رسالی مطالعی ته ور بولم په‌درناوی .

څیړنوال محمد اکبر معتمد

دپښتو ټولنی‌دخپرونو لوی‌مدیر

د روښانیانو سلمی نهضت

او

د شپاړسمې او اووه لسمې پیړۍ د پښتو په ادب کښې یې انعکاس

مونږ غواړو چه په دې مقاله کښې د هغو موادو له مخه چه په لاس کښې دي ښکاره کړو چه د هغه وخت (۱۶-۱۷ قرن) تاریخي واقعات او پېښې د هماغه وخت په ادب کښې په څه ډول منعکسې شوې دي.

د هندوستان او پښتنو په تاریخ کښې شپاړسمه پیړۍ یومهم عصر ګڼل کیږي. د منځنۍ آسیانه دبابر په مشرۍ زورګیران راووتل، دوی لومړی د افغان خاوره لاندې کړه اوبیایې د هند شمالي برخه ونیوله. دوی د شپاړسم قرن په لومړۍ نیمایی کښې د مغلو لویه

امپراطوری جوړه کړه،دې تسخیر او نیونې په افغانی ټولنه کښې طبقاتی اختلاف چټک کړ اودجا ګیرداری اوفیوډالی حرکت یې چه د پښتنو قومونو په منځ کښې په غیر متوازن ډول شروع شوی ؤ ښه تیز کړ .

د پښتنو د شپاړسمې او وه لسمې پیړی تاریخ دمغلو (۱) سره د دوی وسله واله اودعقیدې جګړه ښیي او همدغه وخت دفیوډالانو او نورو سره دملی طبقاتو سبارزې څرګندوي؛ ددې ملي طبقاتود نهضت مشری د روښانیانو مذهبی ډلې په غاړه لرله.

دنولسمې پیړی په سرکښې د لویدیځې اروپا ختیځ پېژندونکو د روښانیانو نهضت یو سوچه مذهبي حرکت ګڼلی چه د مزخرفاتو په مقابل کښې روان ؤ اوهم یې د پښتو سیاسي حرکت بللی دی چه دمغلو دلویې امپراطوری په مقابل کښې منځ ته راغلی ؤ.

په پښتو ادبیاتو اوپه تاریخی آثارو کښې زما اوږدې سابقې زه په دې متیقن کړم چه د دغو ختیځ پېژندونکو وینا وې نوي نظر ته ضرورت لري لکه چه په دې مقاله کښې دغه نوی نظر وړاندې شوی دی.

---

(۱) په دې کتاب کښې دمغلو ذکر د پیر راغلی دی مګر سراد ورنه دهند مغلی ګورګانی امپراتوری ده. مترجم

دروښانیانو تاریخ

ددغې مذهبی ډلې لنډ تاریخ په دې ډول دی:

ددې ډلې مشر اوسوُسس بایزید انصاری ؤ ، دی په یو ه روایت په ۱۵۱۵ کال کښې اوپه بل روایت په ۱۵۲۰ کال کښې د پنجاب په جلندهر کښې پیدا شوی دی.

په ختمه دیو واړه قوم اورسړ (برکی) څخه دی، داقوم په غیرمتوازن ډول اوبی ترتیبه په وزیرستان (د کانې ګرام په شاوخوا) کښې او د کابل جنوبی خواته دلوګر په دره کښې اوسیږي، دده پلار شیخ عبدالله انصاري دسراج الدین انصاري له لمسیوڅخه دی چه عالي نسب ته منسوب دی.

دشپاړسم قرن په اول کښې د بایزید سور او پلار د هندوستان

نه خپل وطن کانې ګرام ته راغلل، کله چه پلار يې دوهمه ښځه وکړه نودبايزيد ژوند ډير تريخ شو.

په (دبستان مذاهب) نومی کتاب کښې چه په اووه لسم قرن کښې ليکل شوی دی داسې راغلی دی چه بايزيد لا په ورکتوب کښې نه يوازې خپل کښت اوفصل بلکه پردي کښتونه او فصلونه هم ساتل.

بايزيد په ځوانی کښې دتصوف اوصوفيزم سره علاقمند شو او ځان ته يې پيرپيدا کړ، د پلار يې داپيرخوښ نه ؤاوپه دې کار ناراض ؤ ځکه چه نسب يې عالی نه و نوبايزيد ورته وويل چه پير يې په نسب نه ده.

کله چه بايزيد بالغ شو نو هندوستان ته لاړ چه هغه اسونه چه ده په سمرقند کښې اخستې وو خرڅ کړي.

دبايزيد ددښمنانو په قول دی په پنجاب کښې داسماعيليانو سره په ناسته ولاړه بوخت شو، دلته بايزيد ديوې پښتنې پېغلې سره چه د لودي قوم څخه وه نکاح وکړه ددغه وخت نه راپه دې خواددې په ژوند کښې يوښکاره تغير اوبدلون پيدا شو، کله چه ددې زوی (عمر) پيدا شو اوخپل وطن کانې ګرام ته بېرته راغی نود خپل پلار او کاکا ګانو سره يې بيخی پربکړه وکړه، مذهبی اختلافونو ددوی په منځ کښې

تصادم پیدا کړ چه په نتیجه کښې دپلار له خوا زخمی شو او تښتې ته مجبور شو.

د کابل دلارې نه جلال آباد ته راغی ، دلته په موقت ډول د ملک سلطان احمد سوند کره دېره شو وروسته بیا پېښور ته لاړ او هلته یې د خلیل قوم په منځ کښې ژوندا ختیار کړ ؛ داخوند درویزه په قول بایزید دلته خپل تبلیغ شروع کړ ، په دغه وخت کښې دا اوازه خپره شوه چه بایزید یو وتلی پیر دی او پوره شهرت یې وګاټه.

کله چه دی هندوستان ته لاړ او هلته دجوګ دعلم سره اشنا شو نو دتناسخ اود ارواحو دنقل تبلیغ یې شروع کړ او ددې سره سره دوحدت الوجود او په کاینات کښې د خدای د حلول نظریه ورسره پیدا شوه ده به ویل چه په ځمکه کښې د خدای دپوره حلول او تجسم نمونې دغه مقدس پیران دی ، ده همدا راز دداراپی اوددولت دتعمیم نظریه قایمه کړې وه ، (داخبره وروسته مفصله راځی).

دبایزید طرفدارانو ده ته (پیرروښان) وایه او دغه مذهبي ډله چه روښا نې ډله نومیږي د همدغه نامه نه اقتباس شوې ده.

په ډیر لږ وخت کښې ز یاتره خلك د روښانیانو د نظر یاتو او تعلیماتو طرفداران شول وروسته بیا دده په تعلیم اونظریاتو پورې دمامن زوقوم پیوست شو چه ددې قوم په بلنه دی داشنغر سیمې ته لاړ، دی هلته په (کلاډېر) نومی ځای کښې مېشت شو، په یوه روایت کښې

دانګ په ۱۵۴۲ کال کښې شوی دی او په بل روایت کښې په ۱۵۶۰ کال شوی دی.

د کلا ډیر څخه بایزید ټولو سیمو او ځایونوته خپل پیغامونه ولیږل چه د خپلو تعلیماتو او تیوریو اساسات یې پکښې لیکلي وو. دا رنګ پیغامونه ده روحانیونو لوړ نماینده سید علی ترمذی (پیر بابا) اودده شاګرد اخوند درویزه ته ولیږل، د غو د واړو ډبر ژر خپل عکس العمل وښود او د پیر روښان په مقابل کښې په ښکاره ډول پورته شول، په دغه وخت کښې د عقیدې او مذهب یې جنګ او رواخیست اووضعیت خطرناک شو، دغه اور ته د مغلو حکومت لمن وهله او د روښانیانو د سقوط اوله مخه ورلو د پاره یې د پوره قوې او رنګارنګ وسایلونه کار اخیست، د اسپراطور همایون زوی میرزا محمد حکیم (د بابر لمسی) چه په دغه وخت کښې د کابل والی ؤ امر وکړ چه بایزید ما ته بندي راولی. بایزید ورته راوستل شو او عالمان یې ورته د بحث اودده د سلامتی د پاره راټول کړل په هغه رسمي بحث کښې چه د عالمانو سره وشو بایزید خپل فوقیت ثابت کړ او مقابل جانب ته یې ماتې ورکړه چه په دې وسیله د بندنه خوشی شو.

کله چه بایزید د بندنه خوشی شونو د کابل نه د ننګرهار (لغمان پور) ته لاړ، د دغه ځای زیاتره خلک دده مریدان وو، د تیرا قوسونه لکه اپریدی او اورکزی د ده په ډله او مریدانو کښې داخل شول.

په داسې حال کښې چه بايزيد خپل طرفداران دمختلفوقومونو څخه راټول کړل اود توتی دغرونو (دپښور شمال) په سيمه کښې يې ځای په ځای کړل دمغلو او دخپلو مخالفو عالمانو په مقابل کښې يې د جنګ اعلان وکړ.

په تيراکښې دبايزيد دتعقيب په سلسله کښې دچوريې په برخه کښې جنګ وشو، دغه جنګ وښوده چه وضعيت څوسره سخت ؤ او د خلکو هيجان اوغوښتنې څوسره تينګې اوجديوې.

دغرونو خلکو وسله نه درلوده نوبايزيددريې سوتنه په غشواو شلګيو سنبال کړل اود مغلو لښکرو ته يې ماتې ورکړه .

کله چه دمغلو واليان اووا کداران پوه شول چه زمونږ لښکاره جګړې اوپه ميدان مبارزې کومه نتيجه نه ورکوي او بايزيدپه لښکاره سره نه شو نيولی نو دتيرا د ځينو اوسيدونکو سره يې پټې خبرې شروع کړې اودسيسې په جوړولو کښې شول مګر دمغلو دغه پټې خبرې ناکامه شوې اودسيسه پخواله دې چه عملي شي اودمغلووالیان ورباندې يوه، يوه رتبه وخيژی لښکاره شو، په دغه وخت کښې بې اعتماده او بې وفا خلک په سزا ورسيدل اومحوه شول.

څه وخت وروسته بايزيد لښکر جمع کړ چه دخو زره پياده اوسپرو څخه عبارت ؤاوله مغلوسره يې ديوسخت جنګ ميدان ښه ټود کړ.

دغه وخت دشينوارو په تور راغه کښې سخت جنګ او ستره

جګړه وشوه چه په نتیجه کښې د بایزید لښکرو ماتې وکړه او بری دمغلو په خوا شو، بایزید چه وضعیت خراب ولید اود خپل لښکر ماتې یې حس کړه نو په شالار، په لار کښې ناروغه شو اومړشو. (۱۵۸۵)

دبایزید په سرکښ سره لکه چه مغلو اتکل کړی وو سله والې جګړه او کلکې نښتې تمامې نه شوې، داجګړه د بایزید زامنو او لمسیانو مخ په وړاندې بیوله اوددوی په مشری روانه وه.

په ۱۵۸۶ کال کښې د روښانیانو لښکرو چه پنځه ویشت زره پیاده او پنځه زره سپاره وو- پېښور محاصره کړ اود هندوستان او کابل په منځ کښې مخابره او ارتباطې پرې کړ.

د (مآثرالامراء) مؤلف لیکي چه موسند و چه دمغلو دحکومتې خلکو اودحکومت دملکانو څخه په تنګ راغلي وو او دصبر کاسه یې ډکه شوې وه نولوی فیوډال سیدحامد بخاری یې وواژه (۱).

وروسته بیادبایزید مشرزوی اودده په ځای ناست شیخ عمر دیوسف-زیودمشر (حمزه خان) سره مخالفت پیدا کړ چه په نتیجه کښې د روښانیانو اود دغه مشردطر فدارانو په منځ کښې و سله وا له جګړه وشوه، په دوه جګړو کښې روښانیانوبری وموند او په د ریمه کښې حمزه خان بریالی شو.

---

(۱) مآثرالا مراء، لوسړی توک، کلکته، ۱۸۸۸، ۴۴۲ مخ.

دلازاکو په ۱۵۹۱ کښې شیخ عمر اوددهور و رخیرا لدین مړه کړل ، په دغه وخت کښې دبایزید دریم زوی نور الدین هم ووژل شواو څلورم زوی جلال الدین بندي شواو اکبر پادشاه ته بندي ورو ستل شو .

که څه هم اکبر په څورلس کلن جلال الدین باندې زړسوی وکړ اوښه چلندیې ورسره وکړ ، مګر څه وخت وروسته د خپل پلار طرفدار انوته وروتښتیداو داکبر یوسخت اوکلک دښمن وګرځید .

په ۱۶۰۰ کال کښې چه روښانیا نو په غزنی حمله وکړه جلال الدین پکښې مړ شو .

دروښانیا نو نهضت چه په دغه وخت کښې دشیخ عمر دزوی احداد ترمشری لاندې روان وخو را زیات وسعت وموند .

په ۱۶۱۱ کال کښې روښانیا نو په کابل باندې حمله وکړه، جګړه دښار په کوڅو کښې په زور سره روانه وه او لاس په ګریوان جنګ شروع ؤ مګر دغه حمله ناکامه شوه .

په ۱۶۱۹ کال کښې دسنګ پوزې په غاښې باندې یوه ډېره سخته جګړه پېښه شوه ، مغلوشکست او ماتې وکړه دو لجې اوغنیمت په ډول دپښتنو لاس ته پنځه زره اسونه ورغلل .

په دغه وخت کښې داور کز یو ملک تو رخپل سیا ست

وګرځاوه او د روښانیانو نه د مغلو خواته لاړ ، ده د مغلو لښکر تیرا ته بوت او ورسره کومکي شو چه احداد د هغه ځای نه وباسي ، په دغه وخت کښې احداد دختکو په خاوره کښې ځای ونیواو په لواغره کښې یې ځان تینګ کړ ، مغلو دغه ځای ته خپل منظم عسکر ولیږل او پنځه شپږ میاشتې جګړې وشوې.

په ۱۶۲۶ کال کښې په یوه جنګ کښې احداد مړشواو پښتانه په شا لا ړل ، دا حداد لور چه نه یې غوښتل د مغلولا س ته ورشی د کلا دبام نه یې ځان وغور زاوه او مړه شوه ، د احداد ښځه (الائي) د جلال الدین لور چه ډیره پو هه او ښایسته ښځه وه او د خپل میړه سره یې د روښانیانو د نهضت په وړاندې بیولو کښې ډیر کومک کړی ؤ د میړه د مرګ نه وروسته د خپل زوی عبدالقادر سره تیراته و تښتید ه او هلته یې پناه یووړه .

په ۱۶۲۸ کال کښې پښتنو د عبدالقادر په مشری په پښور محاصره کړ د مغلو په خلاف انقلا ب کښې دغو قومونو ګډون کړی ؤ :

خلیلو ، موسندو ، داؤ دزیو ، ګیګیانیو ، یوسف زیو ، لودیانو او ختکو .

په یو ه تا ر یخی رو ا یت کښې وائي چه پښتانه په مغلو با ند ې د مخالخواو میږیو غوندې راتوی شول او دښمن یې وا رخطا کړ مګر د پښتنو قومونو په منځ کښې اختلاف او نفاق پیدا شو چه په نتیجه کښې د یوسف زیو او ګیګیانیو په لوري کښې ماتې راغله او محاصره

په دغه خوا کښې ماته شوه اوښا ر ازادشو .

دمغلو په رنګا رنګ وعد و اوقسم ،قسم چلونو (الایی) او ددې زوی عبدالقادر پښتو رته راغلل ، څو ورځې وروسته (سمکن دزهروله کبله) عبدالقادر مړشو، دروښا نیانو دماتې دپاره داپریدوخواته دمغلو دپر فو ځو نه و لیږ ل شول ،په د اسی حا ل کښې چه مغلو د خپلو مخالفینو دتابع کولو دپاره دبډواورشوت نه چه ددوی په زړه پورې دودۀ کار اخیست ، نو یو سف اپـر یـد ی او آزادمیراورکزی یې دربارته راوغوښتل اوپه پانی پت(سرهند) کښې یې ځمکې ور کړې.

ددغه وخت نه راپه دې خواد روښانیانودنهضت مشری دجلال الدین زوی کریم داد په لاس کښې ونیوه ،په ۱۶۳۸ کال کښې دشا جهان دامپراطو ری په وخت کښې بنګښو ماتې وکړه اوپه خپله کریم داد په پښتور کښې ووژل شو .

دا باید وویل شي چه لادنونسمې پیړی په آخر کښې د هندپه شمال غرب سرحد کښې څو زره روښا نیان موجود وو (۱) .

---

(۱) جی ، ایم ، ډی ،ایبټ سن ، دپنجاب دقدیمی آثارو څخه، کلکته ۱۸۸۳، ۱۳۶ مخ .

دروښانيانو د حرکت خصوصيت

ځينو څيړونکو او متتبعينو دروښانيانو نهضت اوحرکت د اسي تعبير کړی چه دايوه سوچه مذهبی مبارزه وه چه داسلا سي نړی د نوي فکر اوپرخواني فکر دعالمانو په منځ کښې واقع وه اوځينونورو بيادا حرکت داسې ګڼلی دی چه دادمغلی غاصبانو اواشغا لګرانوپه مقابل کښی دټول پښتو ټولت جګړه اومجاهده وه .

راځيء چه د امسئله وڅيړو او ځان وربانديی پوه کړو، ددغه حرکت له پوره جوش اوقوت نه څرګند يږی چه ددغواولسي جګړو په اساس کښې يوازې دماوراء الطبيعه بحثو نه شامل نه وو، يوازې دبلې نړی خبرې نه وې ، يوازې دخدای دحلول او پټ ند نې په متعلق څيړنه نه وه اويوازې دمغلو سره دټول پښتون مبارزه نه وه

بلکه دغه د روښانیا نو حرکت اونهضت په زیاته اندازه د انګلس دویناسره چه دالمان د کارپګرې طبقې په با ر ه کښې یې کړې وه نژ دیوالی لری ،انګلس داسې و یلي دي :

« په یورپ کښې دشپا ږسمې پیړ ی جنګ چه مذ هبی جنګ ګڼل شوی د ی په هغه کښې تر تو لو لوړی دملت ګټې په نظر کښې وې ، ددغه جنګ په اساس کښې داولس او طبقا تو ښېګڼې مضمرې وې اویوازې دعامو خلکو دنیکمر غی دپاره ؤ او داچه دمذهب د پر دې لاندې روان ؤ دادهغه وخت شرایط و و ځکه په کلیسا، ټولنې او فیو ډالیز م باندې مستقیمه حمله نا ممکنه وه ....»

علاوه داچه ددوهمې نظر یې طرفدا ران چه داحرکت دمغلو په مقابل کښې دتو ل پښتو ن ملت حر کت ګڼې مجبو ر دي چه په د ې اعتراف وکړي چه خانانو دروښانیانو په سبارز واوحرکت کښې ګډون نه ؤ کړی ، بل لا د ا و ضعیت دا نظر یه سستو ی چه د پښتنو مختلفو قومو نو له دغه حرکت سره په مختلف ډول تماس او ارتباط قایم کړی ؤ ،مثلاً وزیر یانو چه ددوی په منځ کښې با یز ید خپل حرکت اوتبلیغ شروع کړی ؤ په دغه حرکت کښې ګډون نه ؤ کړی؛ ځینو قومونو لکه اپریدیو ،خلیلو ، بنګښو اونو رو د کر لا نې شجر ې قومونو په دغه حرکت کښې په فعال ډول سره ګډ و ن کړی ؤ او ځینو نورو لکه یو سف ز یو په د غه حر کت کښې ثبا ت او

تپښکا رنه ؤ کړی .

مخالفان بایز ید په دې تهمتی کوي چه د دارایي او مال د تعمیم تبلیغ کوي .

داسی نه ده اودد ې خبر ې حل سونږدختمکوپه تاریخ کښې موندی شو چه داتاریخ داتلسمې پیړۍ په سرکښې د د غه قوم مشر افضل خان چه داووه اسمې پیړۍ دمشهور شاعر خوشحال خان خټک لمسی د ی لیکلی دی، د ی په خپل تاریخ (تاریخ مرصع) کښی چه په پښتو ژبه د ی لیکی :

« زما دمورله خوانیکه ملک تور اورکزی په ا و ل کښې د روښانیانو په حرکت اونهضت کښی ګډون کړی ؤ او بیا یې د غه حرکت پرښنود اودمغلو په خوا لاړ، دادی ملک تور احداد ته دخبرو اوسباحثې په وخت کښې څه و و یل :« زه چمتو یم چه ستا هرفرما یش ومنم مګردخپل کور اوټټی اختیارنه در کو م » .

په دې خبرو دسړي دماغ هله خلاصیږي که د پښتو په مشهو ر عادت چه تراوسه پورې په ځینوځایو نو کښې موجود دی خبروي چه هغه (وېش) د ی، بر سیر ه لاداچه په ځینو صورتونو کښې نه یوازې ځمکې دقومونو اوخیلو نو په منځ کښې ویشل کیږی بلکه کورو نه هم په یومعین وخت کښې سره بد لوی .

دناروي مارکنستر ن چه په ۱۹۲۹ کال د هند په شمال غربي

سرحه کښې سیا حت کاوه دده سیلمه پال او لارښو و نکی پښتون چه ددیر اوسیدونکی ؤ دهغه داسې قصه و کړه :

«چه زه دخپلې کورنۍ او کلیوالو سره په هرولسمو کالو نوکښې بل نوي کلي ته کوچ کوم او په هروپښو کلونو کښې ځمکې سره بدلوو، یوازې په ۱۹۲۹ کال کښې دسوات والی په دغه نوابی کښې چه زیاتره اوسیدونکی یې یوسف زي دي د غه د (ویش) قانون پر ته دشولو دپټیو نه لغو کړ . »

دا ښکاره ده چه دپښتنود تاریخ په نورو پې مرحله او دوره کښې دغه دویش قانون پوره معمول او مشهور ؤ ، د ملک تور له ویناندا معلومیږی چه ده غوښتل چه د قبیلوي لوړ تیا په خاطر ځان دویش دسیستم نه چه په هغه وخت کښې مروج ؤ مستثنی کړي مګر په مقابل کښې احداد دي استثنا ته قایل نه ؤ .(۱)

د پښتو قلمي کتاب «تذکرة الملوک» چه د برتانیې په موزیم کښې پروت دی لیکی: «چه یوازې په یوولسم قرن کښې پښتنو شروع وکړه چه دهشین شي اود کورو نو تبدیلي اود ځمکو ویش

---

(۱) د پورته تفصیل له ځکه باید روښانیان په دې ملامت نه شي چه د دارایی د تعمیم کوښښ کوي بلکه د وی غو ښتل چه (ویش) عملي کړي او داهغه عادت دی چه د یوولسم عیسوی قرن نه راپه دې پلو په پښتنو کښې مروج د ی. (مترجم) .

دا هغه عادت دی چه د هماغې انتقا لي دو رې دسراود هشين توب دابتدانه راشروع شوی دی » .

که دروښانیا نو نهضت یو دهقاني او دبزګرانو نهضت وګڼل شي نو داسوال منځ ته راځي چه تاجکانر ولې پکښې ګډو ن نه ؤ کړی ، ځواب دادی چه لا په هغه وخت کښې ددوی په مینځ کښې فیوډالیزم اوملا کی انکشاف کړی ؤاو پښې پې پکښې بندې و پې وزیریانو هم په دغه نهضت کښې ګډون نه ؤ کړی اودا له دې کبله چه په شپاړسم ا و اووه لسم قرن کښې دې قوم کوچیانی ژوند لاره او دزراعتي ځمکو دتقسیم اوویش سره یې کوم انترس اوعلاقه نه ښکاره کوله، په دغه نهضت کښې دیو سف زیو عدم ثبات ممکن په مختلفو دلایلو سره توضیح شي: دابتدایي ژوند ګډ خواص پکښې له منځه تللی وو . په هر نامه چه ؤ خو د غلا سی سیستم پکښې مو جودؤ، ډیر و خپلو نو پکښې قوي فیـوډلی وضعیت لاره .... (دا بحث مخصوصه ځیر نه غواړي) .

ښکاره داده چه ویش په هغه قوم کښې مراعات شوی ؤ چه باید هغه ته منسوب ؤ، یعنی (اورسړی) او دا احتمال قوي دی چه روښانیانو په جدي توګه ددغه عادت عملي کیدل په نوروقومونو کښې هم غوښتل .

په لاندې کرښو کښې مونږ راتلونکې موضوع ته توجه اړوو، د بایزید زوی جلال الدین خلکو یوازې جلال بابا له ، دادی د (مآثر الامراء) مهتمم مولوي عبدالرحیم یوه په زړه پورې تبصره په دغه کتاب پورې لیکلې ده په «فهرستونو کښې زیاتره (روشانې) لیکل کیږي مګر په ځینو کښې (روستانی) راغلی دی . په قوي احتمال دا به (روستایی) وي» .

نوموړي مولوي په خپله هم څو ځایه جلال روستایي لیکلی دی په بله ژبه نوموړی مولوي په دې عقیده دی چه جلال الدین د (روستایی) تخلص لاره ، روستایی د کلیوال اوسېدګر معنی لري .

د ۱۹۴۸ کال په اکتوبر کښې د پرو فیسر سیمونوف په توجه دتا شکند ختیځ پیژندنې انستیتوت دقلمي کتابونو په څانګه کښې مادا اسکان پیدا کړ چه داووه لسم قرن د هندی مورخ عبدالقدیر بدایونی د قلمي نسخې سره اشناشم. د دغې نسخې په یوځای کښې دامې راغلی دی : «برای سر زنش طایفه روشنائي روستایی من سنګ مقرر شد » څرنګه چه دغه دواړه کلمې څنګ په څنګ لیکل شوې وی نو دغلطی احتمال له منځه تللی ؤ .(د دغو دواړو کلمو لاندې په دغه قلمی نسخې کښې خطونه هم کش شوی وو). د پښتنو په توته توته کېدلو کښې دافضل خان یو مستقیم شها دت په منځ کښې شته ، دی په تاریخ سرصع کښې لیکي چه د پیښور په محاصره

کښې چه د پښتنو قومونو له خوا د عبدالقادر په مشرۍ شوې و ه
د روښانیانو په مخالفت دریې ډلې ودریدلې :

د پښتور اربابان ، د ختیکو قوم ځکه چه په هغه وخت کښې
شهباز خان د مغلو په خواؤ او د اورکزیو په منځ کښې د سلک تور کورمه. (۱)

هو ! په هماغه وخت کښې د ختیکو اولسي خلک د نورو پښتنو
قومونو سره یو ځای د مغلو په مقابل کښې جنګیدل . د اسعلومات
نورو منابعو لیکلي دي.

د پورته وینا په نتیجه کښې ویلی شو چه د روښانیانو نهضت
او حرکت یو دهقاني اود بزګرانو حرکت ؤ چه د ملا کانو او فیوډالانو
په مخالفت روان ؤ (۲).

د شپاړسم او اووه اسم قرن لیکوالو له دغه حرکت سره په مختلف
ډول تماس نیولی دی اوهم د روښانیانو مخالفانو په رنګا رنګ
ډول سره تعبیر کړی دی .

---

(۱) ګلشن روه - ۳۴ مخ .

(۲) دلته د ری نظریې منځ ته راغلې یوه داچه دا حرکت یو
مذهبي حرکت ؤ ، دوهمه داچه دا حرکت د مغلو په مقابل کښې
روان ؤ او دریمه نظریه داده چه دا حرکت د دهقانانو حرکت ؤ چه
د ملا کانو په مقابل کښې روان ؤ او دا د مؤلف نظریه هم ده. (مترجم)

دروښانيانو نهضت دشپاړسم او اووه لسم قرن دپښتو ا د بيا تو
د پاره د يرز يات اهميت لري، دغه حرکت د نو و ديموکر اتي
تما يلا تو د پيدا يښت سره د يرکو مک کړي د ي ا وهم يې
په پښتو کښې د اد بياتو انکشاف ته حرکت اوډ کهورکړي ده، ځکه
د روښانيانو دنهضت مشران اوهمداراز ددغه نهضت مخالفان مجبور
وو چه پښتنو ته خطاب و کړي ا و د تبليغ له لارې ورسره تماس
ونيسي اوهم دواړه کمپو نه دي ته اړووچه په پښتوورته اثارو ليکي.

بايزيد انصاري خپل نظريات په خپل کتاب خير البيان کښې
بيان کړی دی . داکتاب په پښتو ليکل شوی دی او د د ری ،
عربي اوهندي ژبو لاحقي هم لري . ډيرو خت داکمان کيد ه چه
داکتاب دروښانيانو ددښمنانو له خوا له منځه وتلی دی مګر په
۱۹۲۷ کال کښې سارګنستيرن په خپل د پښتو
ايتمولوجی قاموس کښې وليکل چه دخير البيان د کتاب قلمی نسخه چه
په ۱۶۵۰ کال کښې ليکل شوې دده سره شته او هم يې خود پښتو
ټوټې ورنه اقتباس کړې او چاپ کړې دي . (دهغو معلوماتو
له مخې چه له مونږ سره د ی دغه نسخه اوس په لندن کښې د برطانيې
دمو زيم په کتابخانه کښې موجوده ده).(۱)

---

(۱) دخير البيان قلمی نسخه مار ګنستيرن د (سرډينی سن راس)
نظامی انګريز نه اخستې وه او داستفادې نه وروسته يې بيرته ورکړې
وه ، څرنګه چه نوسوړی انګريز ددغې راکړې ورکړې نه وروسته ژرسره

په هغو اقتبا سو نو کښې چه مارګنستيرن دخير البيان نه په
خپله کا پي کښې کړې دي يوه قطعه د د ې تائيد کوي

---

*شو نو د دغې نسخې پته بيا ونه لګيده چه څه شو ه، که څه هم متتبعينو ډير کوښښ وکړ اودنو موږې انګريز خصوصي کتابخانه يې ولټوله مګر په لاس ور نغله .

مو لانا عبدالقادر د پيښور د پښتو ا کيډ مۍ پخو ا نۍ مشر چه دخيرالبيان قلمۍ نسخه يې په جرمني کښې موندلې ده په دې عقيده دی چه د ا مو ند ل شوې نسخه اوهغه چه د مارګنستيرن سره و ه يوه نسخه ده ،زه هم دمولانا خبره تائيد و م ځکه چه ددواړو نسخو تاريخ يوه کال ته تکيه کوی .مارګنستيرن ليکی «کومه نسخه چه ما ليد لې ده هغه په ۱۶۵۰ عيسو ن کال کښې ليکل شوی ده» او کومه نسخه چه مو لانامو ندلی ده هغه په ۱۰۶۱ هجري قمري کښې ليکل شوې ده چه د سنجش له سخه د ادواړه تاريخونه سره سطابقت خوري .

خو کاله وړاندی چه په کابل کښې بين المللی نندارتون پرانستل شوی ؤ نود غربی المان په پا و يلون کښې دغه دخيرالبيان نسخه د نندار ې د پاره ايښو د ل شوې وه چه زما په شمول ډيرو خلکو يې تماشا وکړه او ډير ور باند ی خوشاله شوم د ا نسخه ا و س په پيښور کښې د پښتو اکاډيمی له خوا چاپ شوې ده .(مترجم)

چـه بـا يز يـدد و حدت الوجـود طرفدار د ى بـايز يد ليکلى وو «خداى ويلى چه ماهى په او بو کښې هرې خو اته گر ځې نو مـخ يـې ا و بـو تـه وي پـه همـدې شـا ن چه خـلـک هر ې خو ا ته گر ځي نو مخ يې زما خواته وى» ددې نه بايزيد دانتيجه اخستې ده چه په لمانځه کښې دمکى خواته مخ گرځول ضرو ري نـــه د ي (۱) . د ا لا خـــه کـو ي چـــه د ه

(۱) داچه بايز يد په لمانځه کښې دمکى خواته مخ گرځول ضروري نه بو لى دا دواقعيت نه لرې ده ، ده په لمانځه کښې دمکې خواته مخ گرځول دلمانځه دشرطونو څخه ګڼلې دي. يوازې دخوف په لمانځه کښې او په هغه صورت کښې چه سړى ته کعبه معلومه نه وي اوخوك نه وي چه پوښتنه ځنې وکړي نومکې ته مخ گرځول شرط نه بولي اوداعين دحنفي فقه حکم دى . بايز يد په خيرا ابيان کښې داسى ليکلي دي : «اودمخ جار ايستل وکعبه وته دلمانځه ددر ستوالي دپاره شرط دى په آدميان ، بيرن چه ددشمن ياد لهو ه ډار وى ترود ې لمو نځ که په هغه لوري چه يې رضا و ي د هغه آدميان ، که ورسى يو و هغـه ځاى وته چـه د کعبې رخ يـې نـه زده وى و د ه بـو يـه هـر څـو ك چه و رخخه وى هغه د ې و پوښتى ، نمو نځ په روانه د ى بې پوښتنې په تادې وي اعلام که څوك ورخخه نه وي په هغه لو ردي نمونځ که چه يې زړه باورشى) . (مترجم)

دوحدت الوجود نه يوه بله مهمه او اساسي نتيجه اخستي ده او هغه داچه ټول خلک د خدای په نزد مساوي دي . (تو پير يوازې په عمل کښې دی)

په پښتو کښې د مقفی او مسجع نثر لومړی نمو نه خيرا لبيان دی او شعر هم پکښې شته . دا کتاب په پښتو کښې لومړی کتاب دی چه د تصوف او صوفيزم په باره کښې ليکل شوی او اخلاقي او مذهبي موضوعات لري ، د دې کتاب نه ورو سته بيا په دې سلسله کښې نور کتابونه چاپ شول. (۱)

---

(۱) خيرالبيان د لفظا او معنی له حيثه داخلي او خارجي اشخاص ستايي مګر د ډايزيد مخالف درويزه بيادد ې کتاب په باره کښې داسې عقيده ښکاره کوي :« ده يو کتاب جوړ کړی دی چه د هغه څه کلمې يې په عربي راجمع کړې دي خو د تر کيب او ترتيب په پته يې نه دی پوه شوی او څه يې په فارسی او څه يې په پښتو او څه يې په هندي راجمع کړي دي . د دې ټولو کلمو څه مناسبت سره نشته او خپلو کښې دومره بې جوړې دي چه د عالمانو طبيعتونه تر ډيره نفرت کوي. ده د دی کتاب نوم خيرالبيان ايښی دی چونکه د کفر او بې دينی نه جوړ شوی دی ا ړ د فساد او د روغونه پ ک دی نو ما پری شر البيان نوم کيښود که خر البيان ورته وويل شی نو هم مناسب دی .د ده داد عواوه چه د اد خدای د جانبه نازل شوی دی، د ده د کفر نه په خدای پناغواړم .»

داد بیاتو په کار کښې د بایزید سره تر ټولو زیات ملا ارزانی کومک کړی دی . دی دیودیوان څېړتن دی مګر لاچاپ شوی نه دی) داقلمی کتاب څوکاله وړاندی د پښتنو پەقبایلي سیمو کښې پیدا شوی دی.)

ملا ارزاني په خپل کتاب کښې د بایزید تعلیمات او تبلیغات په شعر سره بیان کړي دي د ا با لبداهه شاعر دروښانیانو دډ لی دشعر او ادب علمبر دار ګڼل شوی دی .

دځینو ښکارەدلایلو لەمیخه دده آثارنه په هند کښې چاپ شوي دي او نه په افغانستان کښې .

دروښانیانو د یوبل لوی شاعر دولت لوانی د یوان هم نه دی چاپ شوی دادیوان په کابل کښې شته او کله کله ورځنې انتخابات د پښتو ټولنې په اورګانونو کښې لکه کابل مجله کیږی خوټول لانه دی چاپ شوی .

د رو ښانی شاعرانو په منځ کښې د یرزیات شهرت میرزاخان انصاری د بایزیدلمسی (داووه لسم قرن شاعر) ګټلی دی، دده اشعار په یوسلسله انتخابی مجموعو کښې چاپ شوي دي او داستفادې د پاره وړاندې شوي دي.

د بایز ید ژبې او سبک دده په معاصرو اوورنه وروسته لیکوالو باندې لوی تاثیر کړی دی، حتی د بایزید د تبلیغ او تعلیم داسی سخت مخالف لکه اخوند درو یزه دده سبک د تأثیر لاندې راغلی دی او دده لاریې په ادب کښې تعقیب کړې ده .

PROPERTY OF ACKU 5552

دروښانیانو مخالفین

دروښانیانو ستر مخالف اخوند درویزه ؤ ، دی دغیوډالی او مغلی بادشا هانو دهغې اتحاد یې مشرؤ چه دمذهب دنامه لاندې دروښانیانو په مخالفت او جګړه بوخته وه ، درویزه په ۱۰۳۳ کال کښې په پیښور کښې زیږیدلی دی اودمرګ نیټه یې ۱۶۳۸ اټکل شوې ده، ده په پښتو یو کتاب لیکلی دی چه «مخزن الاسلام » نومیږي ، داکتاب یودمباحثې اومناظرې نه ډک اثردی چه مخصوصاً د بایزید انصارې دتعلیم اوتبلیغ په خلاف لیکل شوی دی .

دا کتاب څو ځلې چاپ شوی دی او د اسلامي معتقداتو مجموعه ده، دا کتاب یو هدفلري چه هغه دبایزید تعلیم او تبلیغ ابطال اوله منځه وړل دي . مخزن الاسلام د پښتنو د ساعت تیری شیان لکه الوتې ،سیلې، سندرې او نغمې ګناه تلقي کړې ده او ډیر محدودیتو نه یې منځ ته راوستي دي .

دد رویزه د کتاب په هر ځای کښې په‌با یزید لعنت ویل شوی دی او دده تعلیم او تبلیغ تر ټولو بد معرفي شوی دی .

دد رویزه ورور ملا اصغر په‌دې کتاب کښې یوه شعری لعنت نامه ځای کړې او دبایزید په‌آدرس یې ورلیږلې وه، ده‌دا ورته لیکلی وو چه گوا کې حضرت محمد ستاد مذهبي ډلې د پیدا ایښت پیشبینې کړې وه مګر لا د مخکښې نه یې اخطا رورکړې ؤ چه دا به دټولو بدعتونو او کفر خورا بد ډول نوعه وي.

د دې کتاب هغه برخه چه د روښانیانو تاریخ یې په مغرضانه روح لیکلی دی دلوړی ځل د پاره د نوو نسلونو په سر کښې د لیدین ختیځ پیژندونکي انګلیس له خوا ترجمه شوې ده.

څرنګه چه له د غې انګلیسي ترجمې نه د مأخذ په حیث زمونږ ختیځ پیژندونکي استفاده کوی نوزه مجبوریم چه دوی ته دا اخطار ورکړم چه د لیدین ترجمه بیخي د غرض نه ډکه ده حقیقت دا دی چه دا ترجمه نه ده تحریفات پکښې ډیر دی او څه یې چه زړه غوښتي دي هغه یې لیکلي دي .دلته یوښاګل راوړم د لیدین ترجمه داسې ده «کله چه بایزید کانړی گرام ته‌مراجعه وکړه نو خپله شو اوپه غره کښې یې یوغار ځانته‌دعباد ت‌دپاره انتخاب کړ » اود دوو یزه عبارت داسې‌دی « خلو تونه یې بنیاد کړه عامی خلک یې ورباندې » چه دا دواړه عبارتونه چه یو

اصل او بل ترجمه دی سر سره نه خوری .

درویزه په عمومي ډول سره تل داخبره کوي چه با یزید عوام- النا سو ته مراجعه کوي او د غه سا ده خلك استعما لوي او پوه او خواص نه وربا ندې غولیږي .

دد رویزه یو بل کتاب چه په دری ژبه دی او (تذکرة - الابرار والا شرار) نومیږي د پښتنو تا ریخ یې دغرض نه په ډ لك روح لیکلی دی او هم د درویزه پو ره بیو گرا فی پکښې شته درو ښا نیا نو د پاره یو مخصوص باب پکښې وقف شوی دی ا و هم دټول کتاب په جریان کې قدم په قدم د روښانیا نو د ډلې بده یادونه شوې ده.

ا و د د غې ډ لې په مشرا نو لعنتو نه او نفر تو نه و یل شوي دي مګر سره ددې ټو لو خبر و په دې اثر کښې د خپرو نکو اومتتبعینو دپا ره ځینې گټور معلو ما ت شته .

درو یزه لیکي چه د یوسف زیو یوه بر خه د شپا رسم قرن په آخر کښې ساپه د ې قا نع کړه چه درو ښا نیا نو په خلا ف پورته شي اوداطا عت نه یې و کړ ځي .

ورو سته ور پسې لیکي چه درو ښا نیا نو په حر کت او نهضت پو ري دسپین غره زیا ترہ خلك پیو ست شوي و و،دوی لمنځونه پر یښي وو،رو ژه یې خوړله، ذکات یې نه ورکاوه،دعا لما نوسره

يې دښمني کوله او دا سې نو ربد کا رونه يې کول .

په عمومي ډول سره درويزه کوښښ کوي چه هغه مسايل چه خطر لري ذکرنه کړي او ديبان لاندې يې را نه وليي لکه دځمکې د (وېش) مسأله شوه، سګرد پښتنو په تاريخ کښې بيا افسانوي او داورېد وقصې ليکي لکه د غه لاندې قصه : خلک قصه کوي چه پښتا نه داسې عادت لري چه د شريعت نه سخا لف دی هغه داچه کله زامن لوی شي او د سړ يتوب وخت ته ور سيږي نو دسور او پلار دا رايي اومال په خپل منځ کښې سره ويشي او دوی ته يو ازې دا سی لږ څه د خورا ك او د فـن دهـا ره پر پـرد ي او حا ل دا چه د محمد (ص) په شريعت کښې داسې دهچه کله زوی لوی شی نو دی با يد په خپله خپل ځا نته دکوم کسب په ذريعه خورا ك او د ژوند ځروريات پيدا کړي او په سور او پلار يې نو رحق نشته او که چيرې ږوندا وميوب ژنو بيا بل حکم دی (۱) .

څرنګه چه روښا نيا ن دد رويزه په نزد ښکا ره کافر ان دي نوده اسلا مي حا کما نو ته فتوا ور کړه چه دروښا نيا نو مرګ روادی

---

(۱) د رويزه، تذکرة الابرار والاشرار، ۸۸-۸۹ مخ.

او پښې يې با يد و ينځي شي اومال يې لوټ اوتالا شي.(۱)

درويزه پيشنهاد وکړچه د بايزيد د تأليف (خير ا لبيان) نو م د پ وکړئي يادي شرالبيان ورته وويل شي اويادې ورته خرالبيان و و يل شي (۲) . په د پ ځای کښې باید و و يل شي چه د درو يزه او د ده د شاګردانو ا د بی ا ستعد ا د دروښانيانو دې لپ په ادبی استعداد پسی نه شی رسيدای ، روښان په خپله د درويزه نه قوی د ی اوده شاګردان د هغه د شا ګر د ا نو نه تکره دي .

---

(۱) تذکرة الا برار والا شرار، ۸۷ مخ .

(۲) مخزن الاسلام .

خوشحال خان او د روښانیانو حرکت

په پښتنو کښې د شعر او ادب ترټولو لوی سړی خوشحال خان کنړ کېږی ، دی د خټکو د قوم مشر دی ، شاعر دی او سپه سالار او جنګی شخصیت دی (۱۶۱۳ - ۱۶۹۱) خوشحال خان په ۱۶۴۱ کال کښې د خټکو مشر شو ، تر ۱۶۶۰ کاله پورې یې د مغلو د حکومت سره کومه مخالفت کاوه . او د دوی په ګټه یې په جنګونو او لښکر کشی کښې ګډون کاوه . داورنګ زیب په وخت کښې د ده مناسبات د مغلو سره خراب شول او په هند کښې بندي شو . اویا په ۱۶۶۶ کال کښې آزاد شو ، کوم وخت چه دی بیرته خپل وطن ته راغی نو سمدستي د مغلو په ضد پورته شو او خپل مخالفت یې په ډاګه اعلان کړ او د هغو پښتنو سره

یوځای شوچه دمغلوپه خلاف جنګید ل ا و عملاً په جګړه اخته و و ،
خوشحال خان په هغه محاذ کښې چه دا پریدیو سره یوځای دمغلو په مقابل
کښې جنګید، یوه سلسله ناارامی یې دمغلو په لښکرو کښې پیدا کړې او
سخته مانې یې ورکړه.

سره ددې چه له یوې خوا د مغلو سره تقریباً مسلسل جنګونه
روان وو اوله بلې خوا د خوشحال یوه زوی بهرام خان د مغلو سره
کومک کاوه او دخپګو دنوابی دلاس ته راوستلو دپاره یې لاس اوپښې
اچولې اوداخلې یې اتفاقي یې پیدا کړې وه - په دغه نازک وخت کښې
خوشحال خان د پرمختلف اوګټورآثارو لیکل ،دغه آثار زیاتره په پښتو دي
اویوه لږه برخه یې په فارسي ده . دده دیوان چه په مکرر ډول چاپ
شوی اوخوځلې دچاپ نه راوتلی دی دده په اویه استاذی او قوي
استعداد شاهدي ورکوي .

خوشحال خان د ژوند هر یې اجتماعي اوشخصي پښې یې ته په شعر سره
ځواب ویلی اود هرې واقعې انعکاس یې په شعر کښې ښودلی اوتمثیل
کړی دی . دده دآثارو ژبه په سادګی اوقوت کښې د نورو ځخه
امتیاز لري ،دخوشحال خان د آثارو موضوع ډیره پراخه ده ،
عشقي شیانې پکښې شته ، دښکار چلونه او دښکار کارنامې پکښې
شته ، دښکاری مرغانو تربیه پکښې شته ، اجتماعي شیان
پکې شته ، بیوګرافي اوسوانح پکښې شته ، د جنګ خبرې

اوجنګ ته دور بللو ترغیب پکښې شته اوداسې نور چه دا ټول د ه په شعر بیان کړي دي .

دخوشحال خان دخپلو آثا رواو دختګو د قو م د تا ر یخ نه داسې سعاو میږي چه خوشحا ل خا ن یو و ا قعي فیو ډ ا ل ؤ اوکوښښې کاوه چه یو افغاني فیو ډالي دولت تشکیل کړي .

داچه خوشحال خان دفیوډالي طبقې نه دی،دادده آثارود غولاندنیو مواقعو څخه څرګند ږي :

دروښانیانودډ لې سره دخوشحال ښکاره دښمني ، د د غې ډ لې د کلکو مخلصانو (لکه دښګښ قوم) سره د د ه د ښمني ، د د غې ډلې دمشرانو سره د ده عداوت اودروښانیانو دشاعرانو (لکه ارزاني) سره دده مبارزه شوه اوبله داچه ده تل په خپلو آثارو کښې د یو قوي فیوډالي حکومت ضرورت بیان کړی ، او دملت د مقا ومت له مخه وړلو طرفدارؤ .

دا دی دخوشحال خان یوشعر په دې ډول لولو :

بنګښ کـله پښتا نه دي ګوره څوك دي

نه یې ذات نه یې مذ هب نه یې اسام

بدمذهب رافضي ډېر دي په بنګښ کښې

چه خبر نـه دي د شرعي په ا حکـا م(۱)

(۱)د ډوډې د جـنـګ قصیده ۱۶ مخ

په يو بل شعر کښې خوشحال خان داسې ليکي:

په ټول ټيرا کښې دمؤذن غږنه اوريدل کيږي

ګهيځ به ته يواز ې دچرګانو بانګونه اور ې

د اسلام ارکان اسر او نهی دی

خو اپريدي او اورکزي يې نه ادا کوي

په مړي د جنا زې لمونځ نه کوي

او حتی د وی ا سا م هم نه لر ی

زکوة نه ادا کوي اونه دفاتحو غونډې کوي

او نه د وی د خد ای نه ډار يږي

په دغو کرښو کښې مونږ داسی تهمتونه وينو لکه چه دروږه به په بايزيد پورې تړل .

خوشحال خان په خپل يوشعر کښې پښتانه په دې سلامت او کرم بولی چه دوی :

« نه دپلار خبره دومره منی او نه دناصح

الکه څومره چه داحداد خبروته غوږ نيسي

داحداد د لا سه هلاک شول

او بيګاړ يې پکې و اچوله »

دخوشحال‌خان د د يوا ن په پښتو ري چا پ کښې د ا سې راغلي دي :

نس مې اپر يدی دی څه غم‌نه لري‌ددين
ښه‌فکريې لږ دی ډيردی‌بدو وته‌شين
زه دپيغمبرغوندې ايمان ښيم‌و د ه ته
د ی لکه شيطا ن غوندې‌د کفر کا تلقين

سګردخوشحال‌خان په همدغه‌شعر کې‌چه‌دراورتی په‌مجموعه کښې چاپ شوی دی دپيغمبر دلفظ په‌ځای دروښزه راغلی دی ا و دشيطان دلفظ په‌ځای روښان ليکل شوی دی .

خوبايد وويل شي چه‌پښتوری چاپ سم اوصو اب ته‌نژ دې د ی ځکه چه‌په پښتوری‌چاپ کښې هغه قلمي نسخه په کار اويدلې‌ده چه پخپله د خـو شحا ل خـان دلمسي افـضل‌خا ن په قلم ليکل شو ې د ه .

دانګليسی‌افغان‌پيژندونکی‌راورتی‌په‌مقد مه کښې چه دخوشحال خان په‌اشعارويې ليکلې ده دا سې را غلی د ي چه شا ه جها ن بـا چـا دخوشحال خا ن د پلا ر د سر ګ‌ډ نه و ر و سته د ختګو پـه سيمه دخوشحال خان حکومت اوحقوق وپيژندل ، راورتی ورپسې ليکي : دخوشحال خان د.شرتوب نه مخکښې دختګو د هيواد سر حـد و نه په‌پوره ډول سره نه‌وو تا کل شوي اونه دخلکو برخې د کور نيو

دشمبر په تناسب معلو مي شو ي وي ،خوشحال‌خان دخپلې‌سيمې
ټولـه ځمکه مېچ کړه کتاب ته‌يې ورسوله او سرحدونه يې تينګ
اومعلو م کړل اوهرې کورنۍ‌ته‌يې دوګډو په‌شميربرخه و ر کړ ه
ا و دانظام لکه‌چه ماته معلوم دی ترهغې پورې موجود ؤترشو د ه
په‌خپله ددې کارنه انکارنه‌ؤ کړی (۱) .

خوشحال‌خان د (وښ) په عادت با ندې مستقيم ګذارونه هم
کړي دي دد ه په يوه شعر کې په دې عا د ت باند ې ملنډې
و هل شوې ا و مضحک شوی دی ، دا کا ر په هغه شعرکښې
شوی دی پـــه کـــوم کښې چـه د ه پـــه دې بـــا نـد ې
خو ا شينې کړې د ه چه سوات چه ا ساساً د دې د پا ر ه تا کل
شوی دی چه حکمرانان اوباچاهان پکښې عيش اوعشرت وکړي او
لذت او خوند ورنه واخلي ديوسف زيو له‌خوا خراب ا و د ښته ورنه
جوړشوه . خوشحال خان په‌يو بل شعر کښې په‌داسې‌حال کښې چه
يوسف‌زي غندي‌او د سوات‌حال‌بيا نوي داسې‌بوجالب‌اعتراف کوي .

په‌يو ژبه پښتو سره و يل کړو
و لـې نه شو يو تر بـلـه خبر دار

---

(۱) چ ، ج ، را و رتی . د پښتو د اشعا رو ا نتخا ب ،
لند ن ۱۸۶۴ کا ل ۱۸۴ مخ .

دخوشحال خان نظريات دده لمسي افضل خان په خپل کتاب (تاريخ مرصع) کښې په پښتو نثر بيان کړی ، دا کتاب دراورتې پـه اقتبا سا تـــو کښې هـم چـاپ شوی دی (۱) او پـه مختصر ډول سره د(انګلو ـ امريکايي) مبلغ پ ، هيوز له خواهم چاپ شوی دی (۲) .

په داسې حال کښې چه افضل خان په کلا ډېر کښې د با يزيد دميشته کيدلو په باره کې قصه کوي او دا موضوع تشريح کوي چه بايزيد دمباحثې د پاره عالمان دا خوند دروبزه په ګډو ن خپل ځـانتـه و روغـو ښتل ا و بـحث بـــې نتيجې سرتـه ورسيد دحکو متونو په با ره کښې د اسې ليکی : « په هغه وخت کښې په دغه هيواد کښې حکومتونه نه وو ، کارونه لکه څنګه چه بايده وو نه حل کيدل » هو ! چېرې چه حکومتونه نه وی هلته هيڅ کار سم اوپه ښه توګه نه فيصله کېږي وروسته وړپسې ا شعا ر ليکي :

په کوم هيواد کښې چه دپوهانو قدرنه کيږي

هغه هيوا د د فتنو لـه کـبـله خرا بيـږي

---

(۱)وګورئ ګلشن روه .

(۲) پ . هيوز کليد افغانی،لندن ، ۱۸۷۲ کال .

چيرې چه د فقيرا نو د ر ناوى نه کيږي

د د اسې هېواد بد نوم په نصيب کيږي

که چيرې په هېواد کښې دحاکمانوسجازات نه وي

په داسې هېواد کښې شخړې منځ ته راځي

افضل خان ليکي :

شل تنه جاهلان په يوه پسې ځي اوشل تنه نوريا دبل پسې روان وي ، داد هغه سره جګړه نه کوى اوهغه دده سره .

دافضل خان داوينا هم ډېره قيمتي ده چه ليکي :

د پېر روښان پښتانه اونورپيروان د (احداد) نه ر ا چا پيره د ي که څه هم د لته نه دى ويل شوى چه د غـه (نور) ځوك وو خودوسره معلومه شوه چه دروښايانو په نهضت کښې بې د پښتونه نورو خلکوهم ګډون کړى ؤ.(۲)

---

(۱) ګلشن روه ، ۲۹ مخ .

(۲) يادونه: د ترجمې په ځينوبرخو کښې اختصارراغلى دى.



څېړنوال معتمد ددې
اثر مترجم

PROPERTY
OF
ACKU
5552

IN THE OCCASION OF THE
INTERNATIONAL SEMINAR
OF BAYAZID ROASHAN

THE NATIONAL AWAKENING OF THE ROASHANS

BY

Professor Aslanov

Translated by:

M. Akbar Motamad

Pashto Academy
Kabul, Afghanistan
1974

دولتي مطبعه